د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د ننگرهار ولایت د پوهنې ریاست

د کېفیت تضمین آمریت




# د ننگرهار ولایت د عملیاتي پلان د کړنو پرمختگ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ کال د حمل څخه ترحوت پورې

## د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 1
د ننگرهار ولایت په هکله عمومي معلومات: ........ 2
پیلامه ........ 3
د کړنو لنډیز ........ 4
د پوهنې د درې گونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختگ ........ 9
لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو ........ 9
۱. پروگرام: ښوونه او روزنه ........ 9
۲. اسلامي زده کړې ........ 10
۳. د کیفیت تضمین ........ 11
۴. سرچینې او اداره ........ 13
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 14
دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 15
۱. ښوونه او روزنه ........ 15
۲. اسلامي زده کړې ........ 18
۳. د کیفیت تضمین ........ 19
۴. سرچینې او اداره ........ 19
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 20
۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........ 20
۱. ښوونه او روزنه ........ 20
۲. اسلامي زده کړې ........ 22
۳. د کیفیت تضمین ........ 23
۴. سرچینې او اداره ........ 23
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 24
د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 27
تحلیل او پایلې ........ 28
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 60
مالي رپوټ تحلیل ........ 61
ملپاڼې ........ 62

## د ۱۴۰۳ کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره /واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوی لیاقت علی (عابد) | دعمومي زده کړو او تعلیم تربیه آمر | | 0791922766 | |
| مولوی سید محمد صادق (هاشمی) | منابع او اداری آمر | | 0783115050 | |
| استاد اول گل (ابوزاهد) | د کېفیت د تضمین آمر | Awal gul abuzahid @gmail.com | 0729819863<br>0777607378 | |
| مولوی وفی الله (مخلص) | د اسلامي زده کړو آمر | Wafiullah mokhlis@gmail.com | 0776662054 | |
| استاد دلاور خان (مومند) | د څارنې ،ارزونې او راپور ورکولو عمومي مدير | | 0786715952 | |
| عبدالرحمن (هاشمزی) | د راپورنو د شننې او توحید مسلکی غړی | | 0786629355 | |
| صبغت الله (حنیفی) | د راپورنو د شننې او توحید مسلکی غړی | | 0780005444 | |

د پوهنې د رئیس تاییدي:

| نوم | دنده | برېښنالیک | گرځنده شمېر /واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| شیخ الدیث محمد شریف(حلیم) | پوهنې رئیس | | 0781448662 | |




## د ننګرهار ولایت په هکله عمومي معلومات:

ننګرهار د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له ډلې څخه په ختیځ زون کې پروت یو مهم سرحدي ولایت دی، چې د ختیځې سیمې منځنی (مرکزي) ولایت ګڼل کېږي.

د دې ولایت مرکز د جلال آباد ښار دی، چې ۷۷۲۷ کېلومتره مربع مساحت لري او د مرکزي احصایې د اټکل له مخې یې د وګړو شمیر په۱۳۹۹ لمریز کال کې ۱۷۰۱۶۹۸ تنه ښودل شویدي. ډېرې وګړي یې په پښتو ژبه خبرې کوي او یو شمیر عربي، پشه یي، هندؤيي او تاجکي قبیلې هم پکې شتون لري.

نوموړی ولایت د کابل ښار په ۱۷۷ کیلومترۍ کې د خیبر درې سره نږدې ځای لري چې د بحر له سطحې څخه ۵۸۰ متره لوړوالی لري.

دا ولایت ۲۲ ولسوالۍ لري چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کوو:
سرخرود، خوګیاڼي، شیرزاد، حصارک ، چپرهار، پچیراګام، هسکه مینه، غني خیل، دور بابا، اچین، نازیان، رودات، کوټ، بټي کوټ، لعلپوره، مهمندره، ګوشته، دره نور، کوز کنړ، کامه، بهسود او جلال آباد ښار چې څلور ولسوالۍ (شیرزاد، حصارک، خوګیاڼي او پچیراګام) د سوړ اقلیم، یولس ولسوالۍ (چپرهار، لعلپوره، مهمندره، بټي کوټ، غني خیل، رودات، کوزکنړ، کامه، بهسود، سرخرود او جلال اباد) د تود اقلیم او اووه نورې ولسوالۍ (ګوشته، دره نور، کوټ، هسکه مینه، دوربابا، نازیان، اچین) د سوړ او تود اقلیم درلودنکې دي.

ښوونې او روزنې ته د یاد ولایت د وګړو لاس رسی د پخوا په پرتله ښه شوی دی. ننګرهار ولایت ۹۰۳ باب ښوونیز او روزنیز دولتي مرکزونه او ۲۲۴ باب خصوصي مرکزونه لري، چې ۷۹۹ یې د عمومي زده کړو ښوونځي ( ۲۹۶باب لیسې، ۱۲۹ بابه یې منځني ښوونځي او ۳۷۴ بابه یې لمړني ښوونځي) دي. د اسلامي زده کړو په برخه کې ۶۱ بابه مدرسې، ۲۱ بابه دارالحفاظونه او ۴ بابه دارالعلوم شتون لري. دغه راز ۱۶ بابه د ښوونکو د روزنې ښوونتونونه ، ۶ باب د لیک لوست زده کړې ښوونځي،۱ باب د شپې لیسه، ۶۸ بابه کلیوالي مرکزونه، ۹۴ بابه د چټکو زده کړو ښوونتونونه، ۱۹۵ بابه د لیک لوست زده کړو دولتي او غیر دولتي کورسونه په دې ولایت کې په فعالیت بوخت دي چې پکې ټولټال ۸۳۹۷۷۴ تنه زده کوونکي چې له دې جملې څخه ۳۱۸۶۹۶ ښځینه زده کوونکي دي په زده کړو بوخت دي.

د دې ولایت په مرکز، کلیو او بانډو او لرې پرتو سیمو کې د اوسیدونکو د ژوند او زده کړې کچه سره توپیر لري چې ۶۰ سلنه وګړي په مرکزي/ ښاري سیمو او ۴۰ سلنه خلک په کلیوالي سیمو کې د زده کړې له نعمت څخه برخمن دي. دغه راز دا ولایت یو دولتي پوهنتون لري چې د طب، انجینري، اقتصاد، حقوق، کمپیوټرساینس، کرنې، وترنرۍ، ژبه او ادبیات، شرعیات، ساینس او د ښوونکو د روزنې پوهنځي پکې فعال دي، او یو شمېر نور غیر دولتي یا خصوصي پوهنتونونه لکه خراسان، اریانا، الفلاح، سپین غر، روښان او التقوا هم په فعالیت بوخت دي.

## پیلامه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

عملیاتي پلان کړنو پرمختګ راپور د دريې ګونو عرصو (کیفیت او تړاوو، زده کړو ته انډولیز لاسرسی، روڼ، اغیزمن او جواب ورکوونکی مدیریت) پر بنسټ سره په بیلابیلو برخو څخه (کړنو لنډیز، د کړنو پرمختګ په تشریحي بڼه، مالي او د مل پاڼو ) څخه جوړ شوی دی چې د هرې عرصې په برخه کې هغه شمیر اړوند شاخصونه او فعالیتونه ځای پر ځای شوي دي چې د پوهنې په اداره کې په ورځني، میاشتني، ربعوار او کلني توګه ترسره کیږي.

د پوهنې وزارت عملیاتي پلان کړنو پرمختګ په ټولو ولایتونو کې په انډولیز منظم او منسجم ډول سره د یو اساس په توګه شتون لري او د کړنو پرمختګ شاخصونه یې په میاشتني ډول د EMIS ډیټابیس چې یو بشپړ او هر اړخیز سیستم دی په ولسوالۍ‌وار بڼه سره انټري درج کیږي چې په ترڅ کې په میاشتني، ربعوار او کلني بڼه سره راپورونه ترې اخستل کیږي او تشریحي راپورونه یې د پوهنې ریاست مقام، ولایت مقام، پوهنې وزارت او ډونرانو ته د ترسره شویو مرستو څخه د ډاډ ترلاسه کیدو او په راتلونکې کې د پوهنې په برخو کې د نویو پلانونو په جوړولو کې کارول کیږي.

د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ راپور په وسیله کولای شو چې په آسانی سره او په لنډ وخت کې د ولایت په کچه د پوهنې ریاست د ترسره شویو کړنو او احصایوي معلوماتو ته لاسرسی ولرو او خپل ترسره شوي کارونه پکې منعکس کړو.

د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ درې میاشتني راپورونو په تسلسل ننګرهار ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۱۴۰۳ مالي کال کلنی راپور لپاره د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ چمتو شوی چې د اعتبار وړ دی. یاد راپور د لاندې برخو درلودونکی دی:

۱: د کړنو لنډیز

۲: د راپور تفصیلي برخه

۳: د پلان څخه بهر فعالیتونو برخه

۴: پایلو او تحلیل برخه

۵: ستونزو برخه

۶: مالي راپور

۷: ملپاڼې

# لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

### لومړی برخه: کیفیت او تړاو

۱. ښوونه او روزنه

- د ۱۴۰۳ هـ ش کال تر پایه د ښوونکو مسلکی پراختیا د غړو له لوري د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲۹۷ بابه سواد زده کړی کورسونه څارل شوي دي.
- د مرکزي ټیم لخوا ۳۴ علمي غړي روزل شوي دي.
- د ننګرهار ولایت په کچه د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې ۱۸۹ تنو د ښوونکو مسلکی پراختیا غړو ته د ظرفیت لوړونې ورکشاپ ورکړل شوي دي.
- د دې ریاست د ساینس مدیریت له لوري لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولو لپاره د کال تر پایه پورې ۱۱۵حمایوي څارنې ترسره شوي دي.
- د دې ریاست د صحت مدیریت له لوري روغتیا په برخه کې د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې۱۵۰۲۰ تنه ښوونکي او زده کوونکي روزل شوي وي.
- د دې ریاست د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې ۱۵۱سواد کمیټو غونډې ترسره کړې دي.

۲. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې (۲۶۷) مدرسې او دارلحفاظونه کتل شوي.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې په ډیتابیس کې ۵۳۶ تنه علماء کرام ثبت شوي دي.
- د اسلامي دزه کړو آمریت له لوري د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې په عالیه او عالمیه آزموینو کې ۱۷۷۰ فارغان ثبت کړي دي.

۳. کیفیت تضمین

- د ننګرهار ولایت په کچه د احصائیوي ارقامو د راټولولو په موخه دظرفیت لوړونې ۵۰ ورکشاپونه دایر شوي دي.
- کیفیت د تضمین برنامې اړوند د نتایجو او شهادتنامو مدیریت لخوا د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه ۴۸۴۸ بری لیکونه ویشل شوي دي.
- د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د دولتي ښوونځیو (۴۰۲) پایلوجدولونه، د خصوصي ښوونځیو د پایلو ۳۴ جدول او ۳۰۸تنو زده کوونکو د سامع فارغانو د پایلو جدولونه تائید شوي دي.
- د څارنې ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې د یاد مدیریت د غړو لخوا (۷۰) تنه د راپور په برخه کې روزل شوي دي.
- د چمتو شوي فارمټ په اساس د ننګرهار ولایت په کچه د پلانونو پرمختګ او لاسته راوړنو معلومات راټول او توحید وروسته یې پوهنې وزارت ته د څلورمې ربعې راپور استول شوي دی.

۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د دې ریاست د نشراتو مدیریت له لوري د ننګرهار ولایت په کچه (۹۳) عرفان مجلې،(۶۶) بخوان و بندیش، (۳۱۳) اوونیزې او (۱۵) کلیزې ویشل شوي

- د پوهنې وزارت د نشراتو ریاست له لورې ۳۱۳ د پوهنې اونیزې ننگرهار پوهنې ریاست ته راستول شوي چې په پایله کې یې ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.
- د ننگرهار پوهنې ریاست له لورې په پښتو او دري ژبه ۳۶۴۴ درسي کتابونه او همدارنگه د بدنې روزنې ۲۸۱۸درسي کتابونه ویشل شوي دي.

## ۲. اندولیز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

- د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو لخوا د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۳۲۷ تنه ښوونکي په دوه کلن پروگرام کې روزلي دي.
- د پوهنې ریاست د ساینس مدیریت له لورې د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه ۵۰ لابراتوار او ۷۲ کمپیوټرلبونه تجهیز شوي دي.
- د ننگرهار پوهنې ریاست د سرو سیمو او گرمو سیمو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ۴۶۶۷۶نارینه او ۴۳۲۴۶تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند دوه بابه لومړنیو ښوونځیو منځنیو ښوونځیو ته لوړ شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لورې ۶۲ ټولگي چټکو زده کړو ایجاد شوي دي
- د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند ۹۲۹ تنه بهر نه راستانه شوي زده کوونکي او همدارنگه ۲۹۵۰ مجاهدینو غوښتنه کړې او مربوطه ښوونځیو کې تدریس لاندې نیول شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لورې د مرستندویه همکارو موسسو په مرسته ۲۴۷ ټولگي د سیمو ایزو زده کړو ایجاد شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لورې ۲۹۵۰ تنو مجاهدینو ته ټولگي تثبیت شوي دي.
- د څارندوي مدیریت له لورې د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې ۲۱۴ د څارندوي ټیمونه ایجاد شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لورې ۹۸۱ صوتي او تصویري کلیپونو له لارې عامه پوهاوي پروگرامونه ترسره کړي. او همدارنگه د جوماتو له لارې یې ۲۵۴ عامه پوهاوي پروگرامونه ترسره کړي دي.
- د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند ۲۹ بابه خصوصي ښوونځي تاسیس شوي دي.
- د سواد زده کړې په کوسونو کې ۳۰۷۶ تنه زده کوونکي جذب شوي دي.
- د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند ۲۹ بابه نوي خصوصي ښوونځي تاسیس شوي دي. همدارنگه ۲۰ بابه خصوصي کورسونه تاسیس شوی.
- د دې ریاست اړوند د ۱۴۰۳ هـ ش کال ترپایه پورې ۱۸۶ بابه خصوصي ښوونځیو ته جوازونه نوي شوي او همدارنگه ۵۰ بابه ښوونیزو کوروسونو جوازونه هم تمدید شوي دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۲۰۷ نوي بنسټونه تاسیس شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۲۷۴ تنه علماء کرامو ته دولسم ټولگي تثبیت شوي دي همدارنگه ۸۰۰ حافظانو او ۱۵۴ تنو علماء کرامو څخه د څوارلسم ټولگي د تثبیت سویه ازموینه اخیستل شوې ده.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند ۴۲۶ تنو طالب العلمانو لپاره لیلیه اسانتیاوې برابرې شوي ده.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په دارالعلومونو کې ۱۰۸۶ تنه طالب العلمان نوي جذب شوي او ۵۹۵ تنه د لومړۍ دورې لپاره جذب ترسره شوی دی.

- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۷۱ بابه د نارینه وو او ۳ بابه د ښځینه وو نوي مدرسي تأسیس شوي دي او همدارنگه ۲۳ بابه دارالحفاظونه هم تأسیس شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۴۰ بابه کلیوالي مدرسي او همدارنگه ۳ بابه کلیوالي دارلحفاظونه جوړ شوي دي.او همدارنگه ۳۴ بابه مدرسي تجهیز شوي.

- ۴. سرچیني او اداره
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست د محافظت او مصؤنیت مدیریت له لورې ۷۰۰۰ تنه ښوونکو او زده کوونکو ته د ماین د چاودنې او خطراتو په هکله عامه پوهاوي پروګرامونه د دې ولایت په سرحدی ولسوالیو کې په لاره اچول شوي.
- د دې ریاست اړوند ۵ بابه ساختمانونه د همکارو مؤسسو له بودیجې څخه جوړ شوي دي.

## ۳. آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### 1 . ښوونه او روزنه

- د عمومي زده کړو آمر د لرې پرتو او محرومو سیمو د ښوونکو ګمارنې له څرنګوالي څخه ۵ څارنې ترسره شوي.
- د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له لورې ۱۳۳ شوراګانو څارنه ترسره شوي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونکیو د مسلکي پراختیا غړو له لورې ۲۲٦٦ بابه ښوونځي څارل شوي دي. ،۲۵۸ سیمه ایزو زده کړو ټولګی څارل شوي دي او همدارنگه ۸۱ بابه د چټکو زده کړو ټولګي کتل شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له لورې ۹۱٦۰تنه ښوونکي، ۱۱۴۴ تنه سرښوونکي او۷۹٦ تنه مدیران مشاهده شوي دي او همدارنگه ۱۲۲ تنه د سواد زده کړو ټولګیو ښوونکي لیدل شوي دي.
- د زده کوونکو د غوښتنې مطابق په بهر کې د زده کړو لپاره ۱۸۱۹ټوکه تعلیمي سوابق لیږل شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې ۵۴۰۸ تنه نارینه ۷۱۱۲ تنه ښځینه سیمه ایزو ټولګیو څخه او۲۷۲۵ نارینه ۳۴٦۵ تنه ښځینه چټکو زده کړو ټولګي دولتي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست اړوند ۱۷۷۱ تنه د بهر څخه بیرته راستنیدونکو احصائیه راجمعه شوي او زده کوونکي اړونده ښوونځیو ته د زده کړو په موخه معرفي شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست اړوند په ۴۵۹ بابه ښوونځیو کې ۳۰۴۳۰٦ تنو زده کوونکو ته د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) سازمان په مرسته بیسکټ او د روغتیا نړیوال سازمان په مرسته د چنجیو ګولی ورکول کیږي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دوړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه ۵ سیالی په لاره اچول شوي دي چې ٦۵ تنه ورزشکاران مشخص شوي دي.

### ۲. د اسلامي زده کړې

- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۲۲ تنو د دولسم ټولګیو بریالیو علماوو سندونه، او همدارنگه ٦۰ تنو څوارلسم ټولګیوته د بریالیو علماوو سندونه ارزول شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو اړوند ۴۷۵تنو ته د دولسم ټولګیو شهادتنامې ویشل شوي او همدارنگه ۲۵٦ تنو ته د څوارلسم ټولګیو شهادتنامې ویشل شوی.
- د اسلامي زده کړو له لورې د قرانکریم یوه سیالی ترسره شوې ده.

### ۴. سرچیني او اداره

- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار ولایت پوهنې ریاست په کچه ۵۸۰ خالي بستونه پیژندل شوي او همدارنگه د ولایت په کچه ۶۱۳ تنه کارکوونکي په راجستریشن کې ثبت شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست ۳۵ تنه کارکوونکو ته هویت کارتونه چاپ شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست په کچه ۸۷ تنه کارکوونکي، ۲۱۴ تنه ښوونکي او ۸۲ تنه استادان گمارل شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست په کچه ۱۰۲۶ تنه ښوونکو قدم او ۵۰ تنه ښوونکو بستونه لوړ شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دننگرهار پوهنې ریاست په کچه ۲۵۲تنه کارکوونکي تقاعد په شرایطو برابر شوي دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست په کچه ۱۹ بنستیزو پروژو څخه څارنه ترسره شوې ده

## ۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د ننگرها پوهنې ریاست په کچه یو عملیاتي پلان او ۲۲ ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته پلانونونه جوړ او منظور شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست اړوند زیاتره ښوونځیو د ودانیو او احاطی او د صحی اوبو نشتوالی
- د عملیاتي پلان د زیاتره مفاهیمو ګونګوالی.
- د کارکوونکو د بست او قدم اوسنې سیستم د کارکوونکو د حقوقو جوابګوي نه دی.
- د معاشاتو او مالي امتیازاتو اوسنې متفاوت سیستمونه.
- د اساسي او ثانوي زده کړو لایحه د ټولو مسایلو د حل وړتیا نه لري.
- د برنامو لپاره په عملیاتي پلان کې وضع شوي فعالیتونه د عملي ساحې یوه برخه ده.
- د څارنې، ارزونې او د راپوروتو د تحلیل او توحید اوسنې تشکیلاتي سیستم او عدم استقلالیت یوه لویه ستونزه ده.
- د ښاري خوزې لپاره د مسلکي پراختیا د تشکیل نه شتون.

## حل لارې.

- بی سرپناه ښوونځیو ته باید ودانی جوړې شي او د احاطی جوړولو سربیره د صحی اوبو څاه ګانی هم ورته وکیندل شي.
- په ولایتي کچه د پوهنې ریاست د راپوروتو د شننې او توحید مسلکي غړو ته د راپور په هکله هر اړخیز ورکشاپ باید دایر شي او عملیاتي پلان تشریح شي.
- د رتبو پخوانی سیستم باید رامنځته شي.
- د ټولو ملکي کارکوونکو ته باید د معاشاتو او امتیازاتو واحد سیستم باید رامنځته شي.
- دغه تقنیني اسناد باید تجدید نظر شي.
- هیله ده د اجرااتو ټوله برخه د فعالیتونو په لیست کې شامل شي.
- دا باید مستقل آمریت شي، تشکیل یې پراخه تر څو څارنه، ارزونه او راپور لیکنه یې ډیره ګټوره تمامه شي.
- باید د کارونو په ښه ډول مخته وړلو لپاره لازم تشکیل ورکړل شي.

## دويمه برخه

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملياتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کيفيت او تړاو

**ټوليزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د يو سالم، مسؤليت منونکي، رشيد، او توليدونکي وګړي لپاره اړين دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنيزې هوساينې په بهير کې د آغېزمنې ونډې اخيستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنيو او نړيوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

#### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعاليت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتياوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونيزو موادو پراختيا؛**

د ۱۴۰۳ کال ترپايه پورې د ننګرهار پوهنې رياست اړوند د سواد زده کړې عمومي مديريت له لورې د ۲۹۷ سواد زده کړو کورسونه په ښار او ولسواليو کې ځارل شوي دي چې په پايله کې يې ښوونيزو موادو پراختيا موندلې ده.

**۱,۲ فعاليت: د ننګرهار ولايت په کچه د علمي غړو (مربيانو) ظرفيت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۳۴ تنه د مرکزي ټيم لخوا او ۱۸۹ تنه د ولايتي ټيمونو لخوا د ولسواليو په کچه علمي غړو ته د ظرفيت لوړونې ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۱,۳ فعاليت: د علمي افکارو، مسؤليت منلو او ښه چلند په برخه کې په ننګرهار ولايت کې د ښوونکو، مديرانو او د ښوونځيو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفيت لوړولو د پروګرامونو ترتيبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ياد فعاليت د بوديجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۱,۴ فعاليت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سيستم د پلي کيدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د دې فعاليت د ترسره کولو لپاره کومه رسمي لارښوونه نه ده شوې.

**۱,۵ فعاليت: د لابراتوارنو د اړتياوو معلومولولپاره سروې او په مرکز او ولايتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمايوي ځارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د لابراتوارونو د اړتياوو معلوماتو لپاره ۱۱۵حمايوي ځارنې ترسره شوي دي.

**۱,۶ فعاليت: د ساينس ولايتي مديريتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساينس، رياضي او کمپيوټر برخه کې د روزنيزو پروګرامونو** تنظيمول؛

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د ساينس مديريت له لورې ۱۵ تنه علمي غړي روزل شوي دي.

**۱,۷ فعاليت: د پوښښ لاندې ښوونځيو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بريل برخه کې د روزنيزو ورکشاپ دايرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د اشارې ژبې او بريل په برخه کې ۳۶ تنه نارينه او ۳۶ تنه ښځينه ښوونکو لپاره د عمومي زده کړو آمريت تر چتر لاندې د هکارو ادارو په مرسته ورکشاپ داير شوی دی.

**۱,۸ فعاليت: د معلوليت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځيو د اداري غړو د ظرفيت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د معلوليت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه ۲۴۰ تنه زده کوونکو،۸۲ تنه ښوونکو او ۴۹ تنه اداري غړو ته د عمومي زده کړو آمريت د ښوونکو مسلکی پراختيا غړو لخوا د ظرفيت لوړونې ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۱,۹ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په ننګرهار ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارونده د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د واش په برخه کې ٦ سمینارونه او ورکشاپونه دایر شوي چې په پایله کې د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي ۱۳ تنه ښوونکي، ۱۳ تنه د اصول صنفي ښوونکي، ۱۱۸ تنه مدیران او آمرین او همدارنګه ۱۵۰۲۰ د روغتیا په برخه کې زده کوونکي روزل شوي دي.

**۱,۱۰ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ننګرهار ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښووینو ترتیبول او ملي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۲ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د همکارو موسسو د نه همکارۍ په اساس نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۳ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې په ننګرهار ولایت کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست اړوند ۲۰ بابه پوهنې آمریتونو کې د پوهنې آمریتونو لخوا د سواد زده کړو ۱۵۱ کمیټو غونډې ترسره شوي دي.

**۱,۱۴ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت له لورې کوم هئیت نه دی راغلی.

**۱,۱۵ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ٥٦ بابه خصوصي ښوونځیو د فیس او حق الاجرت درجه بندي شوې ده.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د تشکیلاتو د ستونزو له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۲,۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاوؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د دارالعلومونو د اړتیاو معلومولو په برخه کې ۱۹ بابه درالعلومونو بررسي شوې ده، چې په پایله کې ۲۳۰ اړتیاوې معلومې شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د نویو مقرر شوو کارکوونکو لپاره په ولایتي کچه ۱ د لارښوونې سیمینار دایر شوی دی.

**۲,۴ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۲٦۷ دارالحفاظونو او مدرسو څخه کتنې ترسره شوي دي چې په پایله کې ۴۵۵ اړتیاوې معلومې شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۵۳٦ تنه علماء کرام په ډیټابیس کې ثبت شوي دي.

**۲,٦ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله نه دی ترسره شوی.

**۲,۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۱۷۷۰ تنه د مدرسو عالیه او عالمیه آزموینوفارغان ثبت شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ولایت په کچه د احصائیوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ۵۰ ورکشاپونه دایر شوي دي.

**۳,۲ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د یاد فعالیت لپاره د مرکز څخه د ننګرهار پوهنې ریاست ته څوک نه دي راغلي.

**۳,۳ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایي او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د وزارت مقام لخوا د یاد فعالیت په موخه ننګرهار پوهنې ریاست ته څوک نه دي راغلي.

**۳,۴ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایي او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د وزارت مقام لخوا ننګرهار پوهنې ریاست ته څوک نه دي راغلي.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د وزارت مقام لخوا ننګرهار پوهنې ریاست ته څوک نه دي راغلي.

**۳,٦ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د شهادتنامو مدیریت له لورې مرکز په شمول ټولو ولسوالیو ښوونځیو ۴۸۴۸ تنو زده کوونکو ته په ګروپي ډول بري لیکونه /شهادتنامې ویشل شوي دي.

**۳,۷ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د ننګرهار پوهنې رياست ته د پوهنې وزارت له لورې سپينې شهادتنامې نه دي ورکړل شوي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د دولتي ښوونځيو د پايلو ۴۰۲ جدولونه، د خصوصي ښوونځيو د پايلو ۳۴ جدولونه او د ۳۰۸ تنو سامع فارغانو د پايلو جدولونه تائيد شوي دي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د پوهنې وزارت ۲ تنه هيئتانو له لورې د ننګرهار پوهنې رياست په غونډو تالار کې د راپور ورکولو په برخه کې ۴۰ تنه کارکوونکو ته ۴ ورځينی ورکشاپ ورکړل شوی دی او ۳۰ تنه کارکوونکي د څارنې او ارزونې په برخه کې د پوهنې رياست او ولسواليو په کچه روزل شوي دي.

**۳,۱۰ فعالیت: د ننګرهار ولایت د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د پوهنې وزارت د څارنې غړو له لورې د فعاليتونو او پلانونو له تطبيق څخه ربعواره څارنه په مرکزي هسته کې او په ولسواليو کې ترسره شوې ده.

**۳,۱۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې همکارو مؤسسو ۳ پروژو څخه څارنه ترسره شوې ده چې د هر يو راپور يې توحيد شوی او اړوند مراجعو ته ليږل شوی دی.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د عملياتي پلان د تطبيق په موخه د راپورونو اخيستلو په موخه د ټولو برنامو او ولسواليو څخه په مياشتني او درې مياشتني توګه راپورونه راټوليږي او د تحليل او توحيد وروسته په درې مياشتني ډول راپورونه پوهنې وزارت ته استول کيږي.

**۳,۱۳ فعالیت: د ۱۴۰۳ کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنۍ کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ياد فعاليت د وزارت مقام لخوا نه دی ترسره شوی.

**۳,۱۴ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د کيفيت تضمين معينيت د څارنې ارزونې رياست له لورې د عملياتي پلان د راپور ورکولو انلاين سيستم فعال شوی چې په ۱۴۰۴ مالي کال کې به د راپور ورکولو په برخه کې ورڅخه استفاده وشي.

**۳,15 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ننګرهار ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د واحد فرمټ په اساس د لومړۍ ربعې، د دويمې ربعې، دريمې او څلورمې ربعې راپور راټول او د شننې او توحيد څخه وروسته د پوهنې وزارت اړوند د څارنې او ارزونې رياست سره شريک شوی دی.

**۳,۱٦ فعالیت: د ننګرهار ولایت په ټودو سیمو کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د ياد فعاليت د ترسره کيدو په موخه د وزارت مقام څخه د ارزونې ټيم د تودو سيمو ښوونځيود شپږم ټولګيو د زده کوونکو د رياضي پوهې د کچې د پرمختګ يو ځل ارزونه کړې ده.

**۳,۱۷ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت له لورې په دې اړه کوم لاښود نه دی راستول شوی.

**۳,۱۸ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله د عامه پوهاوي پروګرامونه نه دي تطبیق شوي.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۲ فعالیت: د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۳ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سوانح د دفترونو د تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنايي کولو لپاره کوم سیستم نه دی رامنځته شوی.

**۴,۴ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۵ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د کمښت او د مؤسساتو د نه همکارۍ امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۶ فعالیت: د پوهنې د دولتي ښوونځیو، مدرسو او اداري ځایونو د عقارو او زیربناوو د نمبر یو فورمونو جوړول او د مالیې وزارت د دولتي املاکو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د یاد فعالیت د ترسره کیدو په موخه د وزارت مقام لخوا هدایت نه دی شوی.

**۴,۷ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې نشتون او د همکارو موسسو د نه همکارۍ له امله نه دی ترسره شوی.

**۴,۸ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اړونده ادارو د همکارۍ د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۹ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراتلولو او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د غصب شویو ځمکو د بررسۍ او قضیو راتلولو او د منازعاتو دحل په موخه د معلوماتو کوم سیستم نه دی رامنځته شوی.

**۴,۱۰ فعالیت: د ننګرهار ولایت ریاست له پاره د سیستمونو رامنځ ته کول او پراختیا ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې او د مسلکي کارکوونکو د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د وزارت مقام لخوا ننګرهار پوهنې ریاست ته څوک نه دي راغلي چې یاد فعالیت ترسره کړي.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۹۳ ټوکه عرفان مجلې او همدارنګه۳۱۳ ټوکه اوونیزې چاپي خپرونې ٦٦ بخوان و بندیش مجلی چې د پوهنې وزارت له لورې رالیږل شوې وې، ټولو برنامو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد کتاب د پوهنې وزارت لخوا نه دی چاپ شوی او نه پوهنې ریاست ته رارسیدلی دی.

**۵,۴ فعالیت: د ننګرهار ولایت د ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار ولایت په کچه په ۲۲ ولسوالیو کې د درسي کتابونو د ویشلو څخه لیدنه ترسره شوې تر څو د یو شفاف او منظم سیستم له لارې هر زده کوونکي ته تدریسي کتاب ورسیږي.

**۵,۵ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۳۷۵۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د سواد زده کړې ریاست له لورې ۳٦۴۴ په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې درسي کتابونه رارسیدلي چې ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

**۵,٦ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۸۳۷۲ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت له لورې ۲۸۱۸ ټوکه د بدني روزنې ښوونکو د لارښود کتابونه رالیږل شوي دي چې ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

**۵,۷ فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د استهلاک شویو کتابونو دلیلام په خاطر وزارت مقام ته وړاندیز شوی خو په اړه یې کوم هدایت نه دی شوی تر څو یاده چاره ترسره شي.

**۵,۸ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۵,۹ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست ته د وزارت محترم مقام له لورې د دعوت ارشاد ریاست کارکونکي راغلي او د پوهنې ریاست مرکزي هستې په ګډون د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه یې لیدنه وکړه.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱،۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی څکه چې د یادې څارنې لپاره د پوهنې وزارت څخه څوک نه دي راغلي.

**۱،۲ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې کوم تړل شوی ښوونځی نه دی پرانیستل شوی ځکه چې په ننګرهار ولایت پوهنې ریاست اړوند کوم ښوونځی تړل شوی نه دی.

**۱،۳ فعالیت: په دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو روزنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار د ښوونکو مسلکي پراختیا مسلکي غړو لخوا ۳۳۷ تنه ښوونکي په دوه کلن پروګرام کې روزل شوي دي.

**۱،۴ فعالیت: د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره د شریکولو په موخه د فارغانود شهرت او نتایجو جدولونو کتنه، تایید او سپارل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست لخوا د نتایجو شهادتنامو ریاست سره د فارغانو۱۲۷ شهرت او نتایجو جدولونه دتائیدی په موخه سپارل شوي.

**۱،۵ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار پوهنې ریاست په کچه د ښوونې او روزنې آمریت له لورې ۵۰ بابه لابراتوارونه او ۷۲ بابه کمپیوټرلیبونه تجهیز شوي دي.

**۱،۶ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د ننګرهار ولایت په کچه د ۸۹۴۷۹ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست اړوند په ګرمو او سړو سیمو ښوونځیو کې ټولټال ۸۹۹۲۲ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه یې ۴۶۶۷۶ تنه نارینه زده کوونکي او ۴۳۲۴۶ تنه ښځینه زده کوونکي دي چې د جنسیت په تفکیک او د ولسوالیو په تعداد په لاندې جدول کې ورڅخه یادونه کیږي.

| شماره | ولسوالی نوم | په دولتي ښوونځیو کې د نویو جذب شویو زده کوونکو شمیر | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | جمله | |
| ۱ | ښار | ۸۵۰۷ | ۷۸۰۶ | ۱۶۳۱۳ | |
| ۲ | بهسود | ۷۶۱۴ | ۷۶۹۸ | ۱۵۳۱۲ | |
| ۳ | سرخرود | ۲۴۱۰ | ۲۲۲۰ | ۴۶۳۰ | |
| ۴ | خوګیاڼي | ۲۰۰۰ | ۲۲۴۵ | ۴۲۴۵ | |
| ۵ | شیرزاد | ۱۰۰۰ | ۱۱۱۰ | ۲۱۱۰ | |
| ۶ | حصارک | ۳۵۰ | ۴۳۹ | ۷۸۹ | |
| ۷ | پچیراګام | ۶۵۰ | ۶۸۶ | ۱۳۳۶ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | چپرهار | ۱۲۳۰ | ۱۹۱۵ | ۳۱۴۵ | |
| ۹ | رودات | ۲۳۹۲ | ۱۹۸۵ | ۴۳۷۷ | |
| ۱۰ | کوټ | ۱۳۹۴ | ۱۲۹۴ | ۲۶۸۸ | |
| ۱۱ | بټی کوټ | ۲۸۵۱ | ۲۱۶۸ | ۵۰۱۹ | |
| ۱۲ | مهمندره | ۲۹۶۰ | ۲۳۲۲ | ۵۲۸۲ | |
| ۱۳ | اچین | ۱۰۷۰ | ۸۹۴ | ۱۹۶۴ | |
| ۱۴ | نازیان | ۵۷۳ | ۵۲۵ | ۱۰۹۸ | |
| ۱۵ | هسکه مینه | ۲۷۶ | ۳۵۵ | ۶۳۱ | |
| ۱۶ | لعلپوره | ۱۱۳۷ | ۷۷۹ | ۱۹۱۶ | |
| ۱۷ | دوربابا | ۴۹۶ | ۵۰۰ | ۹۹۶ | |
| ۱۸ | شینواری | ۳۰۱۵ | ۲۲۱۵ | ۵۲۳۰ | |
| ۱۹ | گوشته | ۱۱۶۵ | ۱۲۱۰ | ۲۳۷۵ | |
| ۲۰ | دره نور | ۵۶۴ | ۴۶۳ | ۱۰۲۷ | |
| ۲۱ | کوز کنړ | ۱۷۹۷ | ۱۵۷۹ | ۳۳۷۶ | |
| ۲۲ | کامه | ۲۹۲۵ | ۲۵۰۱ | ۵۴۲۶ | |
| ۲۳ | سپین غر | ۳۰۰ | ۳۳۷ | ۶۳۷ | |
| ټولټال | | ۴۶۶۷۶ | ۴۳۲۴۶ | ۸۹۹۲۲ | |

**۱,۷ فعالیت: د ننگرهار ولایت په کچه د ۱۰ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د تشکیل کموالي په اساس یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۸ فعالیت: په ننگرهار ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږۍ پر بنسټ د لومړني ښوونځي منځني ښوونځي ته او منځني ښوونځي لیسو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲ بابه نارینه لومړني ښوونځي څخه منځني ښوونځي ته لوړ شوي دي، همدارنگه د بهسودو پوهنې آمریت اړوند یو باب مختلط لومړنی ښوونځی، منځني ښوونځي ته لوړ شوی دی.

**۱,۹ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دکوټ پوهنې آمریت اړوند یو ښوونځی د شهید محمد صدیق په نوم د همدې پوهنې آمریت اړوند په شهید محمد اشنغر ښوونځي کې مدغم شوی دی او همدانگه د دې ریاست اړوند ٦ بابه خصوصي ښوونځیو نوم تغیر کړی.

**۱,۱۰ فعالیت: د ننگرهار ولایت پوهنې ریاست او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه گانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون او د همکارو موسسو د نه همکارۍ له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۱ فعالیت: د ځانگړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۲ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولگیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۱۸۰۵ تنه بيرته راستانه شويو کډوالو او همدارنگه د ۵۴۰۹ تنو مجاهدينو ټولگي تثبيت شوي او اړونده ښوونځيو ته د زده کړې په موخه معرفي شوي دي.

**۱,۱۳ فعاليت: د مرستندويه موسسو په همکارئ په ننگرهار ولايت کې د سيمه ايېزو او چټکو زده کړو ټولگيو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د ودان موسسی لخوا په پينځه ولسواليو (شيرزاد،هسکه مينه،خوگيانی،پچيراگام او دره نور) ولسواليو کې ۶۲ د چټکو زده کړو ټولگي او ۲۴۷ د سيمه ايزو زده کړو ټولگي ايجاد شوي دي.

**۱,۱۴ فعاليت: د څارندوي ټيمونو، ترافيک او اور وژنې ټيمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۲۱۴ څارندوي ټيمونه ايجاد شوي او د ترافيک او اطفايه تيمونه د بوديجې د کمښت له امله ځنډيدلي دي.

**۱,۱۵ فعاليت: د سواد د اهميت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروگرامونو تنظيمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې  د بروشرونو او اعلاناتو له له لارې ۱۱عامه پوهاوې پروگرامونه ترسره شوی، ۲۵۴ جوماتونو کې د عامه پوهاوي پروگرامونه په لاره چول شوي او همدارنگه صوتي او تصويري ۹۸۱ عامه پوهاوې پروگرامونه ترسره شوي.

**۱,۱۶ فعاليت: د سيمه ايېزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حياتي زده کړو په ښوونځيو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حياتي او ژوند مهارتونو د زمينې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۳۰۰ تنه زده کوونکي د سواد حياتي ښوونځيو کې او همدارنگه ۹۳ تنه زده کوونکي په حرفوي ښوونځيو کې جذب شوي دي.

**۱,۱۷ فعاليت: راستنيدونکو او داخلي بې ځايه شويو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمينې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۲۶۵ تنه بيرته راستانه شوي زده کوونکو ته د سواد زده کړې زمينه برابره شوې ده.

**۱,۱۸ فعاليت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۳۰۷۶ تنه زده کوونکي د سواد زده کړو په کورسونو کې جذب شوي دي.

**۱,۱۹ فعاليت: د ملا امامانو او کوچيانو د پروگرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۲۳۰ سواد زده کړو زده کوونکو د ملا امامانو لخوا د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شوي دی.

**۱,۲۰ فعاليت: د ننگرهار ولايت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د عمومي زده کړو آمريت تر چتر لاندې  دسواده زده کړی عمومي مديريت لخوا  ۹۵ سواد زده کړو کورسونه چې  د رسمي ښوونکو له خوا په مخ وړل کېږي او همدارنگه ۱۰ بابه کورسونه چې په مسجدونو کې رامنځته شوي او د کوچيانو لپاره کوم ځانگړی کورس نه دی ايجاد شوی.

**۱,۲۱ فعاليت: دخصوصي ښوونيزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د ښوونې او روزنې آمريت له لورې ۲۰ بابه نوي خصوصي ښوونځي او ۲۹ بابه نوي کورسونه تاسيس شوي دي همدرانگه ۱۸۶ بابه خصوصي ښوونځيو جوازونه نوي شوي او ۵۰ بابه کورسونو جوازونه تمديد شوي دي. همداراز ۱۱ بابه خصوصي ښوونځي منځنی دورې ته لوړ شوي دي او ۶ بابه خصوصي ښوونځي ليسې دورې ته لوړ شوي دي.

**۱,۲۲ فعاليت: د خصوصي ښوونځيو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ښوونې او روزنې آمريت له لورې ۵۵۹ تنو نارينه خصوصي ښوونځيو زده کوونکو نمرې تدقيق شوي او همدارنگه ۴۹۷ تنو ښځينه زده کوونکو نمرې تدقيق شوي.

**۱,۲۳ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کوونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونې او روزنې آمریت له لورې ۸۲ تنه هغه زده کوونکي چې د مالي اړخه کمزوري وو، خصوصي ښوونځیو ته ورپېژندل شوي او همدارنگه ۱۱ تنه خصوصي کورسونو ته ورپېژندل شوي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د دې ریاست اړوند ۲۰۷ نوي بنسټونه تاسیس شوي دي.او د کال تر پایه کوم د کوم رسمي بنسټ ډول بدلون نه دی کړی او نه هم کوم بنسټ ارتقاء کړی ده.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي آمریت له لورې ۱۲ بابه خصوصي اسلامي مرکزونو ته جوازونه ورکړل شوي او ۶۰۱ بابه خصوصي مرکزونه چې څارنه او کنټرول یې ترسره شوی او د ۳۲ باب خصوصي مرکزونو جوازونه نوي شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: د ۲۸۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د تثبیت سویه ازموینې په اخیستو سره ۲۷۴ علماء کرامو ته د دولسم ټولگي تثبت، ۱۵۴ تنو علماء کرامو ته د ۱۴ ټولگي تثبیت شوي دي او همدرانگه ۸۰۰ تنه حافظان تثبیت شوي دي.

**۲,۴ فعالیت: د ننگرهار ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله نه دی ترسره شوی.

**۲,۵ فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلومولو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې ریاست اړونده په ښار او ولسوالیو کې د څارنې غړو له لورې ۲۰ تنه مدرسین ارزول شوي دي.

**۲,۶ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننگرهار پوهنې ریاست اړوند د یوباب دارالعلوم د تجهیز او لوازمو بشپړولو اړتیا لیدل شوي ده.

**۲,۷ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۴۲۶ تنه طالب العلمانو ته د لیلیې اسانتیاوې رامنځته شوي دي.

**۲,۸ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولگیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۱۰۸۶ تنه جدیدالشمولان جذب شوي او همدارنگه ۷۱۷ تنه طالب العلمان د لومړنۍ دورې لپاره جذب شوي دي.

**۲,۹ فعالیت: د ۲۰۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست په کچه ۷۱ بابه د نارینه و لپاره نوي مدرسې تاسیس شوي، ۳ بابه د ښځینه و لپاره تاسیس شوي او همدارنګه ۲۳ بابه دارالحفاظونه تاسیس شوي دي.

**۲,۱۰ فعالیت: د ننګرهار ولایت کې د ۱٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۴۰ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي او همدارنګه ۳ بابه کلیوالي دارالحفاظونه ایجاد شوي دي.

**۲,۱۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ترپایه پورې د پوهنې وزارت د امارتي بودیجې څخه ۵٦ بابه مدرسې تجهیز شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

ننګرهار ولایت په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د اندولیز لاسرسي اړوند د کېفیت د تضمین پروګرام کې پلان شوی فعالیت نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست اړوند ټولو ښوونځیو او اداري بنسټونو ته تشکیل لیږل شوی دی.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د تشکیل د کموالي په اساس یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه دا صلاحیت د وزارت محترم مقام پورې اړه لري.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او ننګرهار ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه دا صلاحیت د وزارت محترم مقام پورې اړه لري.

**۴,۵ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د تشکیلاتو د کړنلارې سره سم د تشکیلاتو تطبیقول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ننګرهار ولایت تشکیل د تشکیلاتو د کړنلارې سره سم تطبیق شوي.

**۴,٦ فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي ټیم ټاکل او لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د وزارت مقام لخوا د یاد فعالیت د ترسره کیدو په موخه کوم ټیم د پوهنې وزارت له لورې نه دی راغلی.

**۴,۷ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د دیخیلو ادارو لخوا د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ویشل.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۷۰۰۰ تنه زده کوونکو او ښوونکو ته د ماین خطراتو په اړه د محافظت او مصؤنیت مدیریت له لورې عامه پوهاوي ورکړل شوي.

**۴,۸ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله ځنډیدلی دی.

**۴,۹ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د د GEN همکارۍ مؤسسې له بودیجې څخه په کوټ بهسود او چپرهار ولسوالیو کې۵ بابه ساختمانونه جوړ شوي دي همدارنګه د اسلامي امارت د بودیجې له لورې هم (۵) بابه ساختمانونه ترمیم جوړ شوی.

**۴,۱۰ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ننګرهار ولایت ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د همکارو موسسو له بودیجې له لورې هسکه مینه ،کوټ او سپین غر ولسوالیوکې ۵ بابه ښوونځی ترمیم شوي.

**۴,۱۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نشتون او همکارو ادارو د نه همکارۍ له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۱۲ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د معارف پاله خلکو له لورې شخصي ځمکه نه ده تدارک شوې.

**۴,۱۳ فعالیت: دننګرهار ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د غصب ولایتي کمیسون له لورې د عامو خلکو او د امارتي ملکیت ۳ د غصب او دعوایي دوسیې تعقیب شوي دي.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت له لورې دننګرهار پوهنې ریاست استازو ته په یاده برخه کې بشپړ معلومات وړاندې شوي دي.

## ۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د ننګرهار ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له ځرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۵ ولسوالیو پچیراګام، نازیان، اچین، دورباba او لعلپورې پوهنې آمریتونو کې ازموینې اخیستل شوي او څارنه ترې شوې ده.

**۱,۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په ننګرهار ولایت کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اړونده همکارو مؤسساتو لخوا د همکارۍ نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۳ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې دکمښت له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۴ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د وزارت مقام دنده او صلاحیت دی.

**۱,۵ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آګاهي/آګاهۍ څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو لخوا ۴۴۳ شوراګانې څارل شوي دي.

**۱,۶ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له لورې ۲۲۶۶ بابه ښوونځي څارل شوي، ۲۵۸ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګي څارل شوي دي، ۸۱ د چټکو زده کړو ټولګي څارل شوي.

**۱,۷ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۴۸۳۲ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**
. د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مسلکي پراختیا مسلکي غړو له لورې ۹۱۶۰ تنه ښوونکي، ۱۱۴۴ تنه سرښوونکي، ۷۹۶ تنه مدیران او همدارنګه ۱۲۲ تنه د سواد زده کړو ښوونکو مشاهده ترسره شوې ده.

**۱,۸ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په یاده برخه کې د ظرفیتونو د کموالي له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی؛ چې په نتیجه کې د اړونده اداري په خپل وخت راپور نه ورکول کیږي.

**۱,۹ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲ هوکړه لیکونه کتل شوي او اصلاح شوي او همدارنګه ۱ هوکړه لیک څارل شوی.

**۱,۱۰ فعالیت: د ولایتي ریاست له لارې په ننګرهار ولایت کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې الحمدالله د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست اړوند د نجونو د تعلیم پر وړاندې داسې کومه ستونزه نه ده پیدا شوی چې په ډاګه یې شي.

**۱,۱۱ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د زده کوونکو د غوښتنې مطابق په بهر کې د زده کړو کولو لپاره د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لورې (۱۹۱) ترانسکرپټونه ترتیب شوی او ۱۸۱۹ ټوکه تعلیمي سوابق لیږل شوي دي.

**۱,۱۲ فعالیت: د سیمه ایېزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۵۴۰۸ تنه نارینه، ۷۱۱۲ تنه ښځینه سیمه ایېزو ټولګیو څخه او همدرانګه ۲۷۲۵ نارینه ۳۴۶۵ تنه ښځینه چټکو زده کړو ټولګي دولتي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي.

**۱,۱۳ فعالیت: په بیړنۍ حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ننګرهار پوهنې ریاست اړوند۱۷۷۱ تنو د بهر څخه راستنیدونکو زده کوونکو احصائیه راجمعه شوې، ۱۲ بابه ښوونځي په بیړني حالت کې قرار لري او ۲ بابه ښوونځي تړل شوي چې د خلاصون لپاره یې لازم اقدام شوی دی.

**۱,۱۴ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته د ننګرهار ولایت په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د البندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د خوړو نړیوال سازمان(WFP) له لورې په ۴۵۹ بابه ښوونځیو کې ۳۰۴۳۰۶ تنو زده کوونکو ته بیسکټ او د چینچیو ګولۍ ویشل شوي دي.

**۱,۱۵ فعالیت: په ننګرهار ولایت کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د څارندوی ټیمونو له لورې ۲۰۰ د مخدره موادو پر وړاندې تبلیغات ترسره شوي.

**۱,۱۶ فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د دې ریاست د عمومي زده کړو آمریت تر چتر لاندې د بدنې روزنې مدیریت له له لورې ۳۰ ورزشي سیالۍ په لاره اچول شوي او ۶۵ ورزشکاران ټاکل شوي.

**۱,۱۷ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سواد زده کړې مدیریت له لورې په ولسوالیو کې د سواد زده کړو ۱۰۰ کمیټو غونډې دایرې شوي دي.

**۱,۱۸ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په دې اړه چا مراجعه نه ده کړې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو ډیپلوماټیک او ثبت شوي اتشي سندونو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ۲۲ تنو د دولسم ټولګیو بریالیو علماوو سندونه او همدارنګه ۶۰ تنو څوارلسم ټولګیو ته د بریالیو علماوو سندونه ارزول شوي دي.

**۲,۲ فعالیت: د ننګرهار ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**

